**مطبوعاتي اعلامیه**

## حزب التحریر ـ ولایه تونس د «همسة» تر عنوان لاندې د تونس خلکو ته تذکر ورکاوه، چې د تذکر ورکولو پر مهال یې یو تن د سیاسي چارواکو له لوري ونیول شو

حزب التحریر- ولایه تونس د «همسة» تر عنوان لاندې د تونس خلکو ته په خطاب کې تر دې شعار لاندې ټینګار کوي چې «**شعار انقلاب و او دی، خلک غواړي چې رژیم رانسکور کړي**». هغه رژیم چې په ۲۰۱۰م، د ډسمبر په ۱۷مه یې د خلکو پر وړاندې قیام وکړ، یو سیکولار او په غرب پورې تړلی رژیم و. همدا راز یې واضحه کړه، چې خلک د رژیم د نسکورېدو غوښتونکي شول، نه د ګډوډۍ، بلکې د داسې یو نظام غوښتونکي وو چې د همدې نظام ځای ونیسي، تر څو عدالت، حقوق او اقتصادي پرمختګ تضمین کړي. دا نظام د خلکو له عقیدې څخه د راپورته شوي نظام، یعنې اسلام او اسلامي حکومت دی، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر منهج له راشده خلافت پرته امکان نه لري. حزب التحریر د تونس له خلکو وغوښتل، چې الله سبحانه و تعالی ته ځان تسلیم کړي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر لاره ګامونه واخلي، تر څو په دنیا او اخرت کې سرلوړي شي.

د حزب التحریر شبابو د ۲۰۲۱م، د ډسمبر په ۱٦مه، چې د «حمسة» پر توزیع بوخت وو، د حزب التحریر یو غړی «سمیع بدري» د سیدي بوزید په ښار کې، چې د انقلاب زانګو بلل کېږي، د ملي ګارد له لوري ونیول شو او تر اوسه په زندان کې پروت دی. دا د ولسمشر قیس سعید هغه ادعا ناسمه ثابتوي چې انقلاب ته وفادار دی او اهداف یې تاییدوي.

د انقلاب اصلي غوښتنه د نظام رانسکورول او د هغو کسانو نیول وو، چې دغه شعار لېږدوي، د بدلون لپاره د خلکو غوښتنه د خپلو اسلامي اعتقاداتو پر اساس یادوي، چې هېڅوک یې مخنیوی نه شي کولای. تحقق یې د حزب التحریر- ولایه تونس شبابو چې مخکینیو رژیمو بورقیبه او بن علي سره مخامخ شوي وو، زندانونو یې مخه ونه نیولی شوای. نن تر هغه ډېر د دې هوډ لري، چې د غرب ښامار او قانون جوړوونکی نظام او محلي مزدوران یې پورته کړي او پر ځای یې اسلام ځای پر ځای کړي او په دې لاره کې د جنایتکارانو له لوري د هغوی ځورول او زندان ته اچول یې کومه اغیزه نه لري. الله سبحانه وتعال فرمایي:

**{یُرِیدُونَ أَنْ یُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَیَأْبَى اللَّهُ إِلا أَنْ یُتِمَّ نُورَهُ وَلَوْ کَرِهَ الْکَافِرُونَ}**[توبة:۳۲]

***ژباړه:*** *دا خلک غواړي چې د الله تعالی رڼا په خپلو پوکیو سره مړه کړي. خو الله تعالی د خپلې رڼا له بشپړولو پرته منونکی نه دی، که کافرانو ته دا هر څومره ناکاره هم وبرېښي.*

**د حزب التحریر- ولایه تونس مطبوعاتي دفتر**

۱۴۴۳هـ.ق، د جمادي الاول ۱۳مه

۲۰۲۱م، د ډسمبر ۱۷مه

د صدور ګڼه: ۱۴/ ۱۴۴۳